نورالحق نبي زاده ځلی ۲۰۲۲ /۰۸ /۰۶

اپین د برتانوي او امریکایي امپراتوریو اروا

اپین د ښکېلاک د نسل وژني یوه وسیله وه او ده. اپین هغه ښکېلاکي توکی دی، چې سوداګرو ته یې له حسابه وتې ګټې راوړې دي. اپینو او نورو نشه یي توکو د نړۍ په اقتصاد او نړیوالو اړیکو کې تاریخي او مرکزي رول لوبولی دی او لوبوي یې. د اپینو لپاره ډېرې جګړې شوي دي. د ډېرو نورو جګړو او اشغالونو، د بېلګې په توګه زمونږ د هېواد د روان اشغال یو علت همدا اپین دي. دا چې ښکېلاکګرو د اپینو په زور څومره انسانان له منځه وړي دي حساب یې یوازې لوی څښتن ته مالوم دی .

په نشه یي توکو روږدی انسان نه یوازې دا چې په خپله د ښکېلاکګرو پر وړاندې ملي مقاومت کې برخه نشي اخیستی، بلکې د ملي مقاومت په لار کې ستر خنډ هم وي .

په هر حال، دا یو واقعیت دی چې اسیایي ولسونه د ښکېلاک له راتګ څخه دمخه له اپینو سره اشنا وو. د ښکېلاک له برلاسی دمخه اپین یوازې د درد ضد درملو او یا د ساعتېرۍ لپاره کارېدل. د کارولو لاره یې داسې وه، چې یا به په خوړو کې ګډېدل او یا به یې څښاک چمتو کېده. دغه په سګرېټو کې څکول ښکېلاک دود کړل .

لکه څرنګه چې پوهېږو، ښکېلاک په اروپا کې د مرکانتیلېزم په دوره (۱۶ – ۱۸ پېړۍ) کې راوتوکېده. د مرکانتیلېزم په دوره کې سیاسي او اقتصادي ځواکونه سره یو کېږي. د همدغو پېړیو په اوږدو کې هالندیانو د جاوا د ټاپو د قهوې انحصار، اسپانویانو د فلیپین د تنباکو انحصار او انګلیسانو د بنګال د اپینو انحصار درلود. د بورې(چیني) اصلي ټاټوبی جنوب ختیځه آسیا او هند دی، خو لومړی ځل په ۱۶ پېړۍ کې د کارابین په سیمه کې په لویه کچه تولید شوه .

د همدغه مرکانتیلېزم په دوره کې هڅه وشوه، چې پورته یاد سوداګریز توکي د ګردو(هر چا) د مصرف په توکو بدل شي. کله چې یو سوداګریز توکی د هر چا د مصرف په توکي واوړي، هغه وخت بیا ډېرې ګټې راوړي. همدا لامل دی، چې پورته یاد سوداګریز توکي د ښکېلاکي توکو په نوم هم یادېږي .

اروپا یا اروپایي سوداګرو کوم سوداګریز توکي د اسیا بازارونو ته وړاندې کول؟ اروپایي سوداګرو وړین(له وړیو څخه جوړ شوي) توکي، پنبه او د چندړ لرګي د اسیا بازارونو ته وړاندې کول. د هغه مهال په نړیوالي سوداګرۍ کې منل شوې پیسې، د سپینو زرو ډالر و. اروپایي سوداګریزو توکو نه شول کولی، چې د چین له چای، وریښمو او چیني لوښو(چیني باب) سره سیالي وکړي. د چین سوداګریزو توکو په اروپا کې ښه بازار او لوړه تقاضا لرله. دلته لیدل کېږي چې د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ په کسر کې انډول نه و موجود او هر څه د چین په ګټه و. په سوداګرۍ کې د انډول(تعادل) نشتوالی ډېرې بدې پایلې لري. برتانویانو د دې لپاره چې له چین سره په سوداګرۍ کې ستونزه حل کړي، د بنګال اپین یې د ونج لپاره وړاندې کړل. په بله وینا انګلیسانو په سوداګرۍ کې اپین د سرو او سپینو زرو ونج وګرځول او د تبادلې سکه یې ورڅخه جوړه کړه .

دا هم باید هېر نه کړو، چې هند هم له ډېر پخوا راهیسې د مصاله جاتو، وریښمو، وریښمینو او غیر وریښمینو ټوکرانو، پنبې، رنګونو، مالګې او داسې نورو توکو په تولید او سوداګرۍ کې ښه نوم درلود. د ۱۷۵۷ کال د پلاسي له جګړې نه وروسته کله چې برتانویانو بنګال لاندې او د بنګال اپین یې تر خپل مخامخ انحصار او کنترول لاندې راوستل، اپین د هند د سوداګریزو توکو غمی وګرځېد .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اپینو سوداګرۍ کومې موخې لرلې؟ موخې یې دا وې: له چین سره په سوداګرۍ کې د انډول(کسر) کموالی؛ د بهرنیو پیسو په تېره بیا د چین د پیسو لاسته راوړل او د سوداګرۍ انډول ساتل. پر دې خو هسې پوهېږو، چې په سوداګرۍ کې انډول مخامخ د پیسو له ځواک(ارزښت) سره اړیکه لري ، د پیسو ځواک بیا د هېواد د ځواک سرچینه ده .

کله چې د شرقي هند برتانوي کمپنۍ په بنګال کې د غلو دانو پر ځای د کوکنارو کرکیله وهڅوله، پایله یې دا شوه چې په ۱۷۷۰ کې لوږه راغله او یوازې لس میلیونه بنګالیان د لوږې له لاسه مړه شول. د اپینو له درکه د کمپنۍ ګټې په ۱۷۷۷ کې دوه ځله ډېرې شوې. انګلیسانو نه یوازې د اپینو له سوداګرۍ څخه ګټې اخیستې، بلکې زمینداران ته، د اپینو د کرلو د اجازه نامو ورکولو او رنګا رنګ مالیاتو ټولو له درکه یې هم ګټې رېبلې .

د اپینو تولید، راټولول او لېږد رالېږد د هغو قراردادیانو په لاس کې و ،چې بزګرانو ته یې پورونه ورکول، بیا یې اپین ور څخه رانیول او وروستی تولید به یې پر کمپنۍ پلورل. د شرقي هند برتانوي کمپنۍ به د خپلو رانیول شوو اپینو یوه برخه په کلکتې ښار کې لیلام ته وړاندې کړه، پاتې به یې د نړۍ ګوټ ګوټ ته لېږدول .

کمپنۍ په دوامداره توګه هڅه کوله، چې د اپینو پر تولید لګښت رالږ شي، تر څو ارزانه شي. په همدې موخه یو لړ سمونونه (اصلاحات) رامنځته شول لکه: په هغو سیمو کې د اپینو کرکیله او تولید منع شو، چې کمپنۍ اجازه نه وه ورکړې. دا د دې لپاره وشول چې اپین د بل چا لاس ته و نه رسېږي او یا یې قاچاق بل څوک و نه کړي. یوازې هغو سیمو ته د اپینو اجازه ورکول کېده چې خاوره او اقلیم یې د اپینو لپاره وړ و.

د شرقي هند برتانوي کمپنۍ د اپینو د پروسس کولو لومړۍ فابریکه په کال ۱۸۲۰ کې د« ورانسي» سیمې په غازي پور کې په کار پیل وکړ. دا په نړۍ کې د اپینو د پروسس کولو لومړنۍ فابریکه هم وه. انګلیسانو په هند کې اپین داسې پروسس کول لکه څرنګه چې په اتلسمه پېړۍ کې د مرکزي امریکا په کارابین کې فابریکو بوره پروسس کوله .

په هند کې د اپینو کرکیله او تولید یوازې په بنګال کې نه و، دهند په لوېدیځ او مرکزي سیمه« مالوه» کې یې هم کرکیله او تولید پرېمانه و. له دې چې بنګال د پلاسي جګړې په پایله کې برتانویانو لاندې کړ ،نو ځکه یې اپین په بشپړه توګه د برتانویانو تر کنټرول لاندې وو. له دې، چې د« مالوه» سیمه د بېلا بېلو واکمنو تر لاس لاندې وه او بل دا چې د هند په لوېدیځ کې پرتګالیانو هم ځینې سیمې لاندې کړې وې او د« دامان» او« ګوا » په شان مهم بندرونه یې په واک کې وو، نو ځکه د مالوه سیمې اپین تر ډېره د پرتګالیانو لاسته ورتلل. تر یوه وخته پورې د مالوه سیمې د اپینو یوه لږ برخه پخواني بمبیي (مومبای) ته هم وړل کېدل.

پورتګالیانو هم د اپینو سوداګرې کوله. پورتګالیانو نه یواځې اپین چین ته وړل، بلکې په جنوب ختیځه اسیا کې یې خپلو مستعمرو او افریقا ته یې هم وړل. پورتګالیانو د هند د مالوه د سیمې اپین لومړی مدغاسکر ته وړل، له هغه ځایه به د ختیځې افریقا بېلا بېلو سیمو ته استول کېدل. دلته دا یادونه هم باید وشي، چې د مصر، ترکیې او ایران اپین همدغو د هند په لوېدیځ کې د پورتګالیانو تر ولکې لاندې بندرونو ته راتلل .

لکه چې دمخه وویل شول، د مالوه سیمې اپین تر یوه وخته پورې د برتانویانو تر کنټرول لاندې نه و. د دې سیمې اپین د راجستان د دښتې له لارې د کراچۍ بندر ته قاچاق کېدل. د کراچۍ له بندر څخه به بیا په بېړیو کې د پورتګالیانو تر کنټرول لاندې بندر« دامان» ته وړل کېدل .

د« مالوه» د سیمې پر اپینو د کنټرول پیدا کولو لپاره برتانویانو پرېکړه وکړه، چې د کراچۍ بندر او ټول«سند » تر خپل کنټرول لاندې راولي. برتانویانو د ۱۸۳۹ کال د فبروری د میاشتې پر درېیمه نېټه د کراچۍ ښار ونیوه . وروسته یې ټول سند لاندې کړ. دې ته باید ځیر شو چې دا د اپینو د لومړۍ جګړې کال هم دی. له دې چې له چین سره د اپینو په لومړۍ جګړه کې د نانکینګ تړون لاسلیک شو او تړون داسې څه دي، چې هېڅوک یې پټولی نشي، انګلیس مجبور دی دا ومني، چې د اپینو لپاره جنګېدلی دی. د«کراچۍ بندر» جګړه چې اصلي لامل یې اپین و او د اپینو د کنټرول جګړه وه، هسې د فرهنګ خپرولو په نوم پټه شوه .

د اپینو د سوداګرۍ د پیل جګړې او تړونونه:

د اپینو لومړۍ جګړه په (۱۸۳۹ – ۱۸۴۲) کالونو کې د برتانیې او چین ترمنځ وشوه او په پایله کې د ۱۸۴۲ د اګست د میاشتې پر ۲۹ نېټه د نانکینګ تړون لاسلیک شو. د یاد تړون له امله هانکانګ د تل لپاره برتانیې ته ورکړ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شو؛ د برتانوي سوداګرو پر مخ پنځه مهم چینايي بندرونه پرانیستل شول او چین اړ ایستل شو ۲۱ میلیونه د سپینو زرو ډالر د جګړې تاوان هم ورکړي .

دا یادوئنه هم باید وکړو، چې نورو استعماري ځواکونو هم له چین څخه هغه امتیازات ترلاسه کړل کوم، چې برتانیې اخیستي وو.

د اپینو دویمه جګړه (۱۸۵۶ – ۱۸۶۰)، یو ځل بیا د اپینو د سوداګرۍ د پراختیا لپاره تر سره شوه. لانجه له دې راپیل شوه، چې یوه ورځ چینايي پولیس یوې داسې بېړۍ ته د پلټنې په موخه وختل، چې په هانکانګ کې راجسټر شوې وه، خو د برتانیې تر بیرغ لاندې یې تګ راتګ کاوه. په بېړۍ کې دوولس چینايي او دوه انګلیسي وګړي وو. د دوولس چینايي وګړو له ډلې نه درې تنه یې ښه پېژندل شوي د اپینو قاچاقبر وو، چې د شرقي هند برتانوي کمپنۍ ګومارلي وو. چینايي پولیسو په بېړۍ کې سپاره دولس تنه چینايي وګړي بندیان کړل.

برتانویانو اعتراض وکړ، چې چینایان د انګلیسي بېړۍ د پلټنې اجازه نه لري او نیول شوي کسان باید بې له ځنډه خوشې شي. د دې تر څنګ انګلیسانو دا هم وغوښتل، چې چین باید په لیکلي توګه بښنه وغواړي. ښکاره خبره ده، چې چینایانو د انګلیسانو غوښتنې و نه منلې. ځکه بېړۍ چینايي وه، یواځې په هانکانګ کې راجسټر شوې وه. هغه مهال دا دود ګرځېدلی و، چې د قاچاقبرو په هرې بېړۍ کې به هسې یو انګریز ناست و او ځان به یې د بېړۍ کپتان باله. بله خبره دا چې د پولیسو له خوا نیول شوي کسان یو مخ د چین وګړي وو.

کله چې چینایانو انګلیسانو ته منفي ځواب ورکړ، برتانوي جنګي بېړیو ډزې وکړې. له دې سره د اپینو دویمه جګړه پیل شوه. په دې جګړې کې د برتانویانو تر څنګ فرانسویان هم ودرېدل. برتانیې او فرانسې جګړه وګټله. چین بده او شرموونکې ماته وخوړه.

د اپینو دویمې جګړې دوې برخې لرلې. د ۱۸۵۸ کال د جون په میاشت کې د تیانجین(تیانسین) تړون په لاسلیک کېدو سره د جګړې لومړۍ برخه پای ته ورسېده. د تیانجین تړون د چمتو کولو په خبرو اترو کې د انګلیس او فرانسې سربېره امریکا او روسیې هم ګډون درلود .

د جګړې دویمه برخه د ۱۸۶۰ کال د اګست د میاشتې پر لومړۍ نېټه پیل شوه. د جګړې لپاره برتانوي او فرانسوي ځواکونه په هانکانګ کې راغونډ شوي وو. یرغلګرو ځواکونو د همدغه کال د اکتوبر د میاشتې پر شپږمه نېټه ان پلازمېنه د پیکنګ ښار هم ونیوه.

د پیکنګ ښار ته د برتانوي او فرانسوي ځواکونو ننوتل وروسته له هغې د کېدو وړ شول، چې ډېر چینايي بندرونه او ښارونه له خاورو سره یو شول. یرغلګرو ځواکونو په پیکنګ کې« د اوړي ماڼۍ» لوټ کړه. دغه ماڼۍ د « مانچو ټولواکمنې کورنۍ» د ځواک مرکز و. دغه ماڼۍ په حقیقت کې د ډېرو ودانیو ټولګه وه. هلته له ۲۰۰۰ څخه ډېر استوګنځي وو. ډېرې یې داسې څو پوړیزې ماڼۍ وې، چې د ولاړو اوبو او ښونو په منځ کې جوړې شوې وې .

کله چې برتانویانو او فرانسویانو خپل لوټ وکړ، ورپسې یې خپلو هندي او سینګالي عسکرو ته د لوټ او تالان امر ورکړ. له لوټ نه وروسته یې دغو ټولو ودانیو ته اور واچاوه. دغه اور څو شپې او ورځې هر څه سوځل او لمبې یې آسمان ته ختلې .

د اپینو دویمه جګړه د پیکنګ تړون له لاسلیک کېدو سره پای ته ورسېده .

د جګړې پایلې :

د چین په خاوره کې د اپینو سوداګري، تولید او کارونه بېخي قانوني شوه؛ چین دا ومنله، چې برتانیې او فرانسې ته به اته میلیونه تایله(تایل – هغه مهال د چین فلزي پیسې وې چې له سرو او سپینو زرو څخه جوړې شوې وې) د جګړې تاوان ورکوي؛ چین خپل ټول سمندري بندرونه د بهرنیانو د سوداګرۍ لپاره پرانیستل؛ انګلیس او فرانسې دا امتیاز هم تر لاسه کړ ،چې تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې چینايي وګړي د کاري ځواک په توګه وګوماري .

دا خو مو دمخه ویلي وو، چې روسیې د اپینو د دویمې جګړې په پایله کې پر چین د یوه ځانګړي تړون د تپلو له امله د خپلې اوسنۍ خاورې جنوب ختیځه څنډه(د ولادیوستوک ښار شا و خوا سیمې) له چین څخه راجلا او پر خپلې خاورې پورې وتړله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په آسیا کې برتانیې یوازې له چین سره د اپینو د سوداګرۍ، تولید او کارونې د قانوني کېدو لپاره پورته یادې دوې جګړې کړې دي. د اپینو له لومړۍ جګړې نه وروسته برتانیې د خپل نظامي ځواک په مټ په دوامدار توګه د سیام هېواد د جګړې په وېره کې اچاوه. د دغو وېرې اچونو په پایله کې یې په ۱۸۵۵ کې پر دغه هېواد د بورینګ تړون وتاپه. د بورینګ تړون هم د اپینو د سوداګرۍ د قانوني کېدو لپاره پر سیام وتپل شو .

دا سمه ده، چې د اپینو د قانوني کولو لپاره تړونونه یوازې له چین او سیام سره لاسلیک شوي دي، خو برتانویانو له ډېر پخوا راهیسې اپین د قهوې او یا چای په شان د خپلو مستعمرو بازارونو ته هسې د یوه هڅوونکي یا پاروونکي توکي په توګه وړاندې کړي دي.

انګلیسانو د برما(میانمار) هېواد د لاندې کولو لپاره ټولټال درې جګړې کړې دي. د لومړۍ جګړې (۱۸۲۶ کال) په ترڅ کې د دغه هېواد د بنګال خلیج پر څنډې پرتې د« اراکان » سیمه چې نن ورځ یې«راخین» بولي او د « تانینتاریي» سیمه چې پخوا یې« تیناسریم» سیمه بلله، د شرقي هند برتانوي کمپنۍ له خوا لاندې کړې. په دغو سیمو کې سمدلاسه د حکومت د حکم او لارښوونو سره سم د اپینو خرڅول دود شول. له همدغه وخت څخه بیا ان د برما تر خپلواکۍ(۱۹۴۸ کال) پورې په ټول هېواد کې د اپینو خرڅلاو بېخي قانوني و .

دا د ښکېلاک له خوا جوړ شوی حکومت و، چې د اپینو ګمرکي محصول او بېلابېلې مالیې یې اخیستې. دا حکومت و چې د اپینو د خرڅولو د هټیو او د اپینو د څکولو د ساقي خانو د پرانیستلو لپاره یې جوازلیکونه ورکول .

د اسیا په جنوب او جنوب ختیځ کې د انګلیس په لاندې مستعمرو کې د اپینو کارو بار کټ مټ د برما په شان سمبال شوی و: سیلون(سریلانکا)، مالیزیا، بروناى دارالسلام، سینګاپور او ان د افریقا په ختیځ کې پروت هېواد ماوریتوس

.... نور بیا ...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ